مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

واحد فقيري

۲۰۱۸/۰۹/۱۲

# د سپتمبر له ۱۱ څخه د عبرت درسونه

نوټ: دا مقاله تقريبا پوره ترجمه سوې ده. لوست ئې د هر چا لپاره ضروري دئ. څه ډير دقت غواړي، خو مطلب ئې دونه قوي دئ چي ښايي ډيرو کمو امريکايانو د جنګ پر ضد پدې قوت ليکنه کړې وي. دو هم ځل لوست ئې ضروري دی. مترجم.

ښاغلی جو کوين په نيويارک ټايمز کي د سپتمبر پر ۱۰ ليکي چي د سپتمبر د تروريستي حملو راوروسته زه سمدستي جنګ ته پدې غرض ولاړم چي د خپل ورور غچ واخلم. خو هغه څوک چي ما واقعا غوښت چي وي وژنم، هغه ۱۷ کله مخکي مړ سوی وو. زما لپاره د دې واقعيت درکول څه وخت وغوښت.

اوولس کاله مخکي، کله چي ما د محمد عطا عکس د لومړي ځل لپاره وليد، زما وينې په جوش راغلي، او د انتقام جذبه مي په زړه کي لمبې کولې. کله چي ما د هغه آواز واورېد چي د طيارې مسافرانو ته وايي،«الوتکه زموږ تر کنټرول لاندي ده. کرار ناست اوسئ، هر څه به هوکي وي. موږ به بېرته هوايي ميدان ته ستانه سو.» خو هغه برمته سوې طياره د نړيوال تجارتي ودانۍ سره وجنګوله.

پدې وخت کي زما ۲۳ کلن ورور په ۱۰۲ منزل کي په خپل دفتر کي ناست وو. کله چي به ما د محمد عطا عکس ته کتل، ما به د خپل ورور په باب چورت واهه. هغه ساه لنډي درلوده. ما به پخپل ذهن کي دا تصور کاوه چي څرنګه به زما ورور په غليظ لوګي کي راڼګ سوی وي. څرنګه به هغه د عمارت پورته منزلونو ته په بېړه ختلی وي،او څرنګه به هغه پدې ۱۰۲ دقيقو کي دارېدلی وي. زه چي به د محمد عطا عکس ته ځېر سوم، ما به د خپل ورور سوځېدلی او ويلي سوی جسد ليدی. پدې وخت کي به زما په رګ رګ کي د انتقام وينه په جوش راغله.

نو لهذا، ما ځان په اردو کښې شامل کړ. زه يو ځل په افغانستان کي او دوه کرته په عراق کي وجنګېدم. ما ډير شيان زده کړل، خو فقط په يوه شي باندي پوه سوم. ما دا زده کړل چي د جنګ ميدان ته دوهمه پلا تګ تر اول واري اسانه وي، خو بېرته کور ته راتګ ګران وي. ما دا هم زده کړل چي پر ما خپل عسکر ملګري د زړه ګران دي. هيڅ شی د خلګو تر مينځ دوستي او يارانه داسي نه ټينګوي لکه د جنګ په ميدانونو کي چي څنګ پر څنګ وجنګېږي. په مياشتو مياشتو ځان نه پرېول، چټلي مسخرې کول، خپل غايطه مواد په بېلر کي سوځول، او بالاخره د خپل ځان او کټو ها خوا ته يو بل عالي هدف ته خدمت کول، د عسکرۍ د خدمت تلپاته يادګارونه دي.

ما دا هم زده کړل کله چي به زما يو ملګری عسکر د جنګ په ميدان کي ووژل سو، او موږ به ئې جسد په تابوت کي کور ته استوی، او پدې به هم ښه خبر وو چي د هغه مېړمن اميدواره ده، زموږ خپګان او قهر به څو چنده سو. ما دا هم زده کړل چي کله يوه بله کورنۍ خپل ورور له لاسه ورکړي، زما ورور بېرته نه راژوندی کېږي.

ما يوازي دا زده نه کړل، بلکي ما دا هم تجربه کړل چي په افغانستان کي يوه افغان پوليس د ټوپک په زور زما څخه رشوت واخيست، څو زه تر ځنځير تېر سم، هله زه د کابل د حکومت په رشوتخورۍ او پراخ فساد باندي هم پوه سوم. ما دا هم زده کړل چي د افغان پر امنيتي قواوو باندي ۶۸ ميلياردېه ډالره مصرف ول، يوه وفاداره، باهمته، او په جنګي روحيې باندي سمبال جنګي قوه نه جوړوي. ما دا هم زده کړل چي اکثره جنرال تل د زياتو پيسو، ډيرو عسکرو، زيات وخت، او زيات جنګ غوښتنه کوي.

ما دا هم زده کړل چي د ليونتوب اصلي تعريف دا دئ چي يو شی بار بار تجربه کړئ، خو هر کرت د متفاوتي نتيجې د لاسته راوړلو اميد کوئ. پدې تېرو ۱۷ کلونو کي موږ په افغانستان کي هر څه امتحان کړل: لږ عسکر ور استول، ډير عسکر وراستول، عنعنوي جنګ، ضد چريکي جنګ، د فساد پر ضد مبارزه، سرچ، او بيا بېرته عسکرو کمول. ما دا هم زده کړل چي په خارجي جنګونو کي د امريکا ټاپ ځوانان قرباني کېږي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

ما دا هم زده کړل چي باید یو داسي ژوند وکړم چي د وژل سویو عسکرو قرباني ته احترام پکښي نغښتی وي. موږ د هر عسکر د ژول کېدو پر وخت وایي چي بیا باید دا غمجنه حادثه تکرار نه سي. خو دې هدف ته د رسېدو اصلي لاره دا ده چي دېته اجازه ور نه کړو چي زموږ نور وړونه په جنګونو کي ووژل سي.
ما دا هم زده کړل چي څرنګه یو پلار واوسم. کله چي زه نن شپه خپل زوی، ګراهام جمېز، په غېږ کي نیسم، زه ځان خود خواه او خود غرضه احساسوم، ځکه هلته داسي په زرو هاوو عسکر پلرونه سته چي بیا به هیڅکله خپلو کورونو ته راستانه نه سي، او خپل خوارېه اولادونه به په ګرمه غېږ کي و نه نیسي. زه خپل ځان خود خواه او خود غرضه احساسوم، ځکه هلته داسي پلرونه سته چي ۱۷ کاله مخکي له جنګونو راستانه سوي دي، او خپل هغه ماشوم بچیان ئې په غېږ کي نیولي ول چي اوس هماغه ماشومان همدې ناتمامه جنګونو ته روانېږي.
ما یو بل مهم درس هم زده کړ، خو د دې درس عمق ته لا تر اوسه خلګ نه دي رسېدلي. او هغه دا چي د اسامه بن لادن ستراتیژیک منطق دا وو چي متحده ایالات په یوه ابدي او نه تمامېدونکي جنګ کي راښکېل کړي، او بالاخره امریکا ډیوالي کړي. هغه په ۲۰۰۴ کي ویلي ول،«څه چي موږ باید وکړو هغه دا چي د مشرق په یوه لیري سیمه کي دوه مجاهدین واستوو، او هغوی یوه داسي جنډه پورته کړي چي القاعده پرې لیکي وي. زموږ دا کار به امریکایي جنرالان دېته وهڅوي په منډه هغه غرونو ته ځانونه ورسوي. دا به امریکا ته نه بیانېدونکې انساني او اقتصادي خسارې ورسوي. امریکا به د سیاسي لحاظه هم سخته وځپي، خو په مقابل کي به هیڅ شی تر لاسه نه کړي.» اوس سوال دا دئ چي ولي موږ هغه څه کوو چي اسامه بن لادن ئې هیله درلوده؟
زه په یو بل شي هم وپوهېدم. او هغه دا چي زما د فکر یو اړخ راته ویل چي دا خپل احساسات او خیالات د ځان سره وساتم،او چوپه خوله پاته سم، ځکه زه لدې ډارېدم چي خلګ به څه وایي. دا ښه خبره ده چي خلګ زموږ د عسکری له خدمت څخه مننه کوي، خو هیڅکله دا سوال نه راپورته کېږي چي دا خدمت د څه لپاره وو؟ اصلي خبره دا ده چي موږ ګرده د سپټمبر د یوولسمي حملو په مختلفو اشکالو سره متاثیره کړي یو، او همدا خبره د دې باعث سوه چي موږ همدې واقعې ته په تحریف سویو عینکو کي وګورو. همدا سبب دئ چي موږ اکثریت نه غواړي چي پدې باب تبصره وکړو، او لږ تر لږه د جنګ په اړه یو مدني ډیالوګ ولرو.
مګر زما د شرمونکي ۱۷ کلن سکوت اصلي علت دا وو چي زما همدې سکوت ۱۷ کاله په بر کي ونیول. څه چي ما زده کړل هغه دا چي: ۱۷ کله مخکي، کله چي ما د محمد عطا عکس ته کتل، ما د هغو خلګو لپاره انتقام غوښت چي زما ورور ئې راوژلی وو. مګر په څه چي زه وفهمېدلم هغه دا چي هغو خلګو چي زما ورور را وواژه، هغوی په هغه ورځ زما له ورور سره یو ځای مړه سول.
نو لهذا، زه به لدې راوروسته د محمد عطا او اسامه بن لادن امرونه اطاعت نه کړم. زه به نور «چوپ» پاته نه سم. دا جنګ ختم کړئ.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ